Pamphlet

# فیضانِ جشنِ ولادت

(Pashto)



اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فيضان جشن ولادت

✿ **اَيَّامُ الله** (يعني د الله د ورځو) د يادولو حُكم په قُرآنِ كريم كښې دې (سیپارہ ۱۳، اِبراھیم، آیت ۵، ماخوذاً) او په **اَيَّامُ الله** (يعني د الله په ورځو) كښې د ټولو نه مُقدَّسه ورځ ”د نبيّ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مِيلاد [يعني د پيدائِش] ورځ“ ده. ځكه چه ټولې ورځې د هم دې ورځ په وجه بَرَكتي شوي دي. ✿ قُرآنِ كريم مونږ ته د الله عَزَّوَجَلَّ په رَحمت باندې د خوشحالئ كولو حُكم راكوي (سیپارہ ۱۱، یُونُس ۵۸) او قُرآنِ كريم پخپله نبيّ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته رَحمتِ اِلٰهي وائي (سیپارہ ۱۷، اَلْاَنبیاء ۱۰۷) نو معلومه شوه چه د جَشنِ وِلادت خوشحالئ كول په حُكمِ قُرآني باندې عمل كول دي (اذاقۃ الاثام لِمَانعی عمل المولد والقیام ص ۹۶) ✿ زمونږه خوږ آقا مَكّي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل جَشنِ وِلادت په خوشحالئ كښې د هر كُل په ورځ روژه نيوله، ځنكه چه **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو قَتاده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د كُل د روژې په باره كښې تپوس اوكړې شو، نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”په هم دې ورځ باندې زه پيدا شوم او په هم دې ورځ په ما باندې وَحِي نازِله شوه.“ (مُسْلِم، كِتابُ الصِّيام، باب صيام ثلاثه الخ، ص۵۹۱، حديث ۱۹۸) ✿ چه كله اَبُولَهَب مړ شو نو د هغه د كور ځيني كسانو په خوب كښې هغه په بد حال كښې اوليدو، تپوس ئې ترې اوكړو: څه دركړې شو؟ وئيلې: ستاسو نه چه جُدا شوې يم نو ما ته هيڅ خير نه دې نصيب شوې، بيا ئې د خپلې غټې ګوتې نه لاندې سُوري ته اِشاره اوكړه او او ئې وئيل: سِوا د دې نه چه د دې نه ما ته اوبه راكولې شي ځكه چه ما **ثُوَيْبَه** وينځه آذاده كړې وه. (مُصَنَّف عَبدُ الرَّزَّاق، كِتابُ الوَصايا، الصدقة عن الميت ۹/۹، حديث ۱۶۶۶۱، عمدة القارى، كتابُ النِّكاح، باب و اُمَّهٰتُكم الخ، ۱۴/۴۴، تحت الحديث ۵۱۰۱) ✿ د دې رِوايت نه لاندې سيِّدُنا شيخ عبدُ الحق مُحَدِّث دهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په دې رِوايت كښې د مِيلاد شريف والؤ د پاره غټ دليل دې چه هغوئي د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِلادت په شپه خوشحالئ كوي او مال خرچ كوي، يعني ابُو لَهَب چه كافِر وو، چه هغه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِلادت [يعني پيدائِش مبارك] خبر واوريدو نو خوشحاله شو او خپله وينځه [ثُوَيْبَه] ئې [حضورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته] د پئ وركولو د پاره آذاده كړه، هغه ته [د مرګ نه پس] په دې باندې بدله وركړې شوه نو د هغه مسلمان به څه حال وي چه په مَحَبّت او خوشحالئ كښې خپل مال خرچ كوي خو دا ضروري ده چه مَحفِلِ مِيلاد شريف د سندرو او سازونو نه پاك وي. (مدارِجُ النُّبوَّت، قِسم دووم، با اوّل، ذِكر نسب الخ ۲/۱۹) ✿ **جَشنِ وِلادت څه ته وائي؟** جَشنِ وِلادت هغه مباركې اِجتِماع ته وائي چه په هغې كښې د مُعتبرو كتابونو نه د حُضورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فَضائِل او مُعجِزات، سِيرَ (خصلتونه)، حالات، د ژوند، رِضاعت او د بِعثت واقعات بيان كړې شي (سبل الهدىٰ والرشاد، الباب الثالث عشر فی اقوال العلماء..... الخ، ۱/۳۶۳ ماخوذا) ✿ **صَدرُ الشَّريعه،** حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د دې څيزونو (يعني د نبيّ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فضائِلو او مُعجِزاتو وغيره) ذِكر په قرآنِ مجيد او حديثونو كښې هم شته دې، كه مسلمانان په خپلو مَحفلونو كښې دا بيانوي يا خاص د دې خبرو د پاره مَحفلونه [يعني اجتِماعات] كوي نو د دې د ناجايزه كيدو هيڅ دليل نشته. د دې مجلس د پاره د خلقو رابلل او په دې كښې شريك كول د خير طرف ته رابلل دي، ځنكه چه د وعظونو او جلسو اعلانونه كيږي، اِشتِهارونه چاپ كيږي او تقسيميږي، په اخبارونو كښې د هغې متعَلِّق مضمونونه شايع كيږي او د هغې په وجه هغه وعظونه او جلسې نه ناجائِزه كيږي، هم دغسې د ذكرِ پاك [يعني د مِيلاد شريف] د پاره د رابللو په وجه دې مجلِس ته ناجائِزه او بِدعت نه شي وئيلې. (بهارِ شريعت، ۳/۶۴۴) ✿ **د جَشنِ وِلادت د نمانځلو فضائِل او بَرَكتونه:** د جشنِ وِلادت نمانځولو والؤ ته بې شميره دِيني او دُنياوي رحمتونه حاصليږي ځنكه چه **حضرتِ** سيِّدُنا اِامام اِبنِ جَوزي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په جَشنِ وِلادت باندې د خوشحالئ كولو والا د پاره به دا خوشحالي د جَهَنَّم نه رُكاوټ جوړيږي، څوك چه د جَشنِ وِلادت په خوشحالئ كښې يو دِرهم خرچه كړي نو نبيّ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغه شفاعت فرمائي، **الله** عَزَّوَجَلَّ به هغه ته د يو دِرهم په بدله كښې لس دِرهمه وركړي. اے د خوږ مَحبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّته! ستاسو د پاره دِ خوشخبري وي، تاسو په دنيا او آخرت كښې د ډير خير حقدار جوړ شوئ. د **حضرتِ** سيِّدُنا اَحمَدِ مُجتَبٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جشنِ وِلادت خوشحالئ كولو والؤ ته به بَرَكت، عِزَّت، خير او فخر نصيب كيږي، هغه به جنّت ته په داسې شان داخليږي چه هغه به د غمو عِمامه [يعني پټكې په سر كړې وي] او شنه حُلّه [يعني شنې جامې به ئې] اغوستې وي، هغه ته به بيشميره مَحَلونه

ورکولې شي او په هر محَل کښې به څوره وي. په نبئ خيرُ الانام صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر ډېر دُرود لولئ، جشنِ وِلادت نمانزئ او دا ډېر عام کړئ. (مجمُوع لطیف التّبی فی صیغ المولد النبوی القدسی، مولد العروس، ص۲۸۱) ❁ حَافِظُ الْحَدِيث اِمام ابُو الخير محمّد بن عبدُ الرَّحمٰن سَخاوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: دجَشنِ وِلادت خوشحالئ کولو والؤ باندې د دې عمل په بَرَکتونو فَضلِ عظيم ښکاره کيږي. (سبل الهدیٰ والرشاد، البابُ الثّالث عشر فی اقوال العلماء..... الخ، ۳۶۳/۱) **حضرتِ** سيِّدُنا اِمام احمد بن محمّد قسطلاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د وِلادتِ باسعات [يعني پيدائِش مبارك] په ورځو کښې د محفِلِ ميلاد کولو په فائدو کښې دا خبره د تجربې نه ثابته ده چه په هغه کال امن و امان وي. الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغه کس رحمت نازِل کړي چا چه د وِلادت [يعني د پيدائِش مبارك] شپې اختر جوړې کړې.“ (مواهبُ الدُّنیه، اَلْمَقْصد الاول، ذکر رضاعه، ۱۴۸/۱) ❁ دجَشنِ مِيلاد د خوشحالئ کولو والؤ د پار د بزرګانو په کلام کښې د جنّت زيرې هم دې چنانچه شيخ مُحقِّق حضرت شاه عبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائِش په شپه د خوشحالئ کوونکو جزاء [يعني ثواب] دا دې چه **الله**عَزَّوَجَلَّ به هغوئ په خپل فضل او کرم په **جَنّاتُ النَّعِيم** کښې داخِل فرمائي. مسلمانانو د هميشه نه د محَفِلِ ميلاد اهتمام کړې دې او د پيدائِش مبارك په خوشحالئ کښې ئې ميلمستيا ګانې، [قِسم قِسم] خوراکونه پخول او ډيرې ډيرې صَدَقې او خيراتونه کړې دې. ښې ډيرې خوشحالئ کوي او د زړه د اِخلاصه [مال] خرچ کوي او د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائِش مبارك د ذِکر اِهتِمام کوي او خپل کورونه ښائِسته کوي او د دې ټولو افعالِ حَسَنه (يعني نيکو کارونو) په بَرَکت په هغوئ باندې د **اللهُ تَعَالٰى** رحمتونه نازليږي (مَا ثَبَتَ مِنَ السُّنَّة ص۷۴ مُلَخَّصاً) **د عُلَماء او مُحَدِّثينو فرمانونه:**❁ **حضرتِ** سيِّدُنا اِمام عبدُ الرَّحمٰن اِبنِ جوزى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په دې کار (يعني د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کولو) کښې د شيطان د ذليله کيدو او د اِيمان والؤ د تَقوِيَّت [يعني مضبوطه کيدو] نه سِوا بل هيڅ هم نشته. (سبل الهدیٰ والرّشاد، البابُ الثّالث عشر فی اقوال العلماء..... الخ، ۳۶۳/۱) ❁ اِمام جلالُ الدِّين عبدُ الرَّحمٰن سيوطي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د جَشنِ وِلادت خوشحالئ کوونکې ثواب حاصلوي ځکه چه په دې کښې د نبئ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم او په پيدائِش مبارك باندې خوشحالي ښکاره کول دي. (الحاوی للفتاویٰ حسن المقصد فی عَمَل المولد، ۲۲۲/۱) ❁ شارح بُخاري اِمام اِبنِ حجر عسقلاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: زمونږه په حق کښې مُستحب دي چه په جَشنِ وِلادت باندې د شُکر ادا کولو د پاره اِجتِماع اوکړو، په خلقو طعام اوخورو او هم دغسې نورې نيکئ اوکړو او خوشحالي ښکاره کړو. (الحاوی للفتاویٰ حسن المقصد فی عَمَل المولد، ۲۳۰/۱) ❁ **حضرتِ** سيِّدُنا ابُو مُوسىٰ زرهوني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خوب کښې د نبئ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ليدلو سعادت حاصل کړو نو دوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته د ميلاد شريف په خوشحالئ کښې د اهتمام کولو عرض اوکړو نو سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **مَنْ فَرِحَ بِنَا فَرِحنَا بِه** يعني څوك چه زمونږ نه خوشحاليږي مونږ د هغه نه خوشحاليږو. (سبل الهدیٰ والرّشاد، البابُ الثّالث عشر فی اقوال العلماء..... الخ، ۳۶۳/۱) ❁ د اميرِ اَهلِسُنّت بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابُو بِلال مُحمّد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالې ”**د سپرلي سَحَر**“ نه اخستې شوې د مَدَني ګلونو خلاصه اوګورئ: (1) زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر کُل په ورځ د خپل پيدائِش مبارك په خوشحالئ کښې روژه نيوله. تاسو هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې د دولسم ربيعُ الاوّل شريف روژه اونيسئ. (2) د يوولسم [ربيعُ الاوّل] په ماښام ګنې په دولسمه شپه غُسل اوکړئ که کيدې شي نو د ټولو اخترو نه غټ [يعني د غټ اختر نه هم غټ] اختر د پاره د تعظِيم په نِيّت د ضرورت ټول څيزونه نوي واخلئ. (3) د جَشنِ وِلادت په خوشحالئ داسې يو کار هم مه کوئ چه په هغې حقوقُ العباد ضائع کيږي. (4) ټول اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې د جَشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې د سُنّتو مطابق د [آئنده] ژوند تيرولو نِيّت اوکړئ. (5) د جشنِ وِلادت په خوشحالئ کښې په جُماتونو، کورونو او دُکانونو شنې شنې جنډې اولګوئ، ښه ډير چراغان [يعني رنړاګانې] اوکړئ خو د بجلئ د محکمې والا سره رابطه اوکړئ او په جائِزه طريقه باندې د رنړاګانو کولو ترکيب جوړ کړئ. (6) په جُلوس کښې چه څومره کيدې شي په اوداسه کښې اوسئ او د جَمعې د نمونځونو د پابندئ خيال ساتئ. (د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د اميرِ اَهلِسُنّت حضرت علّامه مولانا ابُو بِلال مُحمّد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله ”د سپرلي سَحَر“ اولولئ.)

**په نيکو باندې د اِستِقامت موندلو او د سُنّتو مطابق ژوند تيرولو د پاره د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول سره تړون اوکړئ**